## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**7جدی _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


صد ها مهاجر طور جبری ازپاکستان برگشت نمود ----------------------------------------------------------------1

بلخ کې ۲۱۵ کورنیو ته د حرفوي چارو وسایل ووېشل شول-----------------------------------------------1

برای ۳۰ خانواده در ولایت فراه کمک نقدی توزیع شد-------------------------------------------------------2

۳۰۰ څخه زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول ------------------------------------------2

بیش از هزار مهاجر مقیم ایران طور داوطلب واجباری در یک روز به وطن برگشتند ------------------------------2

تخار کې ۵۰ تنو ته د کار وسایل ووېشل شول-----------------------------------------------------------2

بیش از ۳۰۰ خانواده در ولایت هلمند، مساعدت شد ----------------------------------------------------------3

لغمان کې یو ښوونځی ګټي اخېستني ته وراندې شو ------------------------------------------------------4

۱۵ تن،  در ولایت ننگرهار از مساعدت نقدی مستفید شدند----------------------------------------------------5

ننګرهار کې لسګونو کورنیو سره مرسته وشوه ------------------------------------------------------------7

بریتانیا ته په کښتیو کې د کډوالو سفر د تیر کال په پرتله سږکال کم شوی ------------------------------------8

سږ کال په اروپایي ټولنې کې له یو میلیون څخه ډېر د پناه غوښتني ثبت شوي --------------------------------10

فرانسه: بندر شیربورگ توسط درون ها برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی نظارت می‌شود----------------------11

افغانستان در دومین بازی تمریناتی کریکت مقابل امارات نیز پیروز شد------------------------------------------13

# متن کامل اخبار

## صد ها مهاجر طور جبری ازپاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۵۴۶ تن مهاجر افغان به تاریخ ۶ جدی از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس گزارش آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۶۷ خانواده شامل ۳۵۵ تن از مرز یاد شده طور جبری به و طن عودت نمودند، و پس از ثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**طبق یک خبر دیگر، به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار،  ۳۸ خانواده که شامل ۱۹۱ تن بودند، طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند.**

**وپس ازثبت در کمیته های موظف، جهت کمک بیشتر به دفاتر کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

**برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.**

## بلخ کې ۲۱۵ کورنیو ته د حرفوي چارو وسایل ووېشل شول

د وزارت ویب سایت



**بلخ ولایت کې ۲۱۵ بې ځایه سوو او راستنېدونکو کورنیو ته د حرفو چارو وسایل ووېشل شول**

**دغو کورنیو پخوا ۵ میاشتې د خیاطۍ برخه کې زده کړې کړې وې او له هغه وروسته ورته ۱۴ ډوله وسایل د پناه غوښتونکو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له خوا ورکړل شول.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## برای ۳۰ خانواده در ولایت فراه کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت

**ریاست امورمهاجرین ولایت فراه از توزیع کمک نقدی برای ۳۰ خانواده درآن ولایت به تاریخ ۵ جدی خبرداد.**

**خانواده های مذکور در ولسوالی های آن ولایت قبلاً شناسایی شده بودند، که پس از آن در سه کتگوری مبالغ ۱۶ هزار، ۱۵ هزار و ۱۴ هزار افغانی کمک شورای مهاجرت دنمارک را دریافت نمودند.**

## ۳۰۰ ښځه زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د مرغومي پر ۵ نېټه په پاکستان کې د مېشتو ۳۲۴ تنو راستنېدونکو خبر ورکړی.**

**د تورخم د سرحدي آمریت د آمر د راپور له مخې ۶۲ کورنی چې ۳۲۴ تنه کېږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او د مهاجرینو اداره کې تر ثبتېدو وروسته د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنری او د مهاجرت نړۍ وال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.**

## بیش از هزار مهاجر مقیم ایران طور داوطلب واجباری در یک روز به وطن برگشتند

ویب سایت وزارت

**یک هزار و ۴۵۸ نفر مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۵ جدی ازطریق اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.**
**به اساس معلو مات آمر سدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۳۵۰ نفر ایشان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.**
**برای ۵۸ تن یک عدد سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.**
**و تعداد ۲۴۳ تن دیگر از خدمات صحی نیز بهره مند شدند.**

## تخار کې ۵۰ تنو ته د کار وسایل وویشل شول

د وزارت ویب سایت




**د تخار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د راپور له مخې له حرفوي زده کړو فارغو ۵۰ تنو ته د مرغومي پر ۵ نېټه د کار وسایل ووېشل شول.**

**۸ ډوله وسایل ۲۰ هغو مېرمنو ته چې پخوا یې په خواجه غار ولسوالۍ کې د ګلدوزۍ اړوند ۴ میاشتنۍ زده کړې کړې وې او ۳۰ تنو نارینو ته ۱۲ ډوله کاري وسایل د پناه غوښتونکو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له خوا ورکړل شول.**

## بیش از ۳۰۰ خانواده در ولایت هلمند، مساعدت شد

ویب سایت وزارت



برای ۳۷۹ خانواده در ولایت هلمند، کمک نقدی و سولر بتاریخ ۵ جدی توزیع شد.
به هر خانواده ۲ تخته سولر، ۲ دانه بطری معه وسایل آن و مبلغ یک هزار و ۸۰۰ افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توزیع شد.

## لغمان کې يو ښوونځی کتې اخيستنې ته وراندې شو

د وزارت ويب سايت



د لغمان ولايت د مهاجرينو رياست د راپور له مخې د مرغومي پر۵ نېټه په الينګار ولسوالی کې د نجونو يو ښوونځی کتې اخېستنې ته وړاندې شو.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د لغمان ولایت د مهاجرینو چارو د رئیس په وینا دغه دوه پوړیزه ښوونځی د بې ځایه شوو راستنېدونکو او ځایي اوسیدونکو له پاره د ۵ سوه او ۳۵ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د پناه غوښتونکو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په همکارۍ جوړ شوی.

د ښوونځي د پرانېستې په غونډه کې د ولایت والي، د مهاجرینو رئیس او نورو چارواکو هم برخه اخېستې وه.

ځینو مسولینو ته د ستاینلیک له ورکولو وروسته د یاد ښوونځي ودانۍ په رسمي توګه د مهاجرینو ریاست له خوا پوهنې ریاست ته وسپارل شوه.

## ۱۵ تن، در ولایت ننگرهار از مساعدت نقدی مستفید شدند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**برای ۱۵ تن آسیب پذیر و عودت کننده در ولایت ننگرهار کمک نقدی به تاریخ 5 جدی توزیع شد.**

به هریک در دو کتگوری مبالغ ۲۴ هزار و ۵۰ هزار افغانی جهت رشد و تقویت کار های کوچک از جانب شورای مهاجرت دنمارک توزیع شد.

## ننګرهار کې لسګونو کورنيو سره مرسته وشوه

د وزارت ويب سايت



ننګرهار کې ۴۱ راستنېدونکو سره د مرغومي پر ۵ نېټه مرسته وشوه

۱۵ کورنیو سره ۵۱ زره، ۱۱ کورنیو سره ۳۳ زره او ۵ کورنیو سره ۲۸ زره او ۱۰ نورو کورنیو سره ۱۰ زره افغنی مرسته د مهاجرت نړۍ وال سازمان له خوا ورکړل شوه.

## بریتانیا ته په کښتیو کې د کډوالو سفر د تیر کال په پرتله سږکال کم شوی

مهاجرنیوز



د بریتانیا د کورنیو چارو وزارت د شمیرو له مخې په روان میلادي کال کې ۲۹۴۳۷ کډوال په وړو کښتیو کې له فرانسې څخه بریتانیا ته اوښتي چې دغه شمیر بیا تیر ۲۰۲۲ کال کې ۴۵ زره تنه و. له دغې سمندري لارې بریتانیا د تلونکو کډوالو کچې د ټیټیدو یو لامل د پاریس او لندن ترمنځ د کډوالۍ تړون بلل شوی دی.

د فرانسې ۲۴ تلویزیون د سه شنبې په ورځ خبر ورکړ چې د روان میلادي کال له پیل څخه ۲۹۴۳۷ کډوال د فرانسې د ختیځ له سواحلو څخه په وړو کښتیو کې ځانونه بریتانیا ته رسولي دي چې د تیر کال په پرتله دغه کچه راټیټه شوې.

د بریتانیا د لومړي وزیر ریشي سوناک لپاره چې تل یې له دغې لارې د کډوالو د کچې پر کمولو ټینګار کاوه، ښایي دا یو ښه خبر وي. د لندن او پاریس ترمنځ د کډوالۍ د تړون لاسلیکول او روندا ته د کډوالو استول د ریشي سوناک هغه هڅې وې چې په دې برخه کې یې ترسره کړې.

د روان کال په مارچ میاشت کې بریتانیا او فرانسې په کښتیو کې د ناقانونه کډوالو د مخنیوي په موخه یو نوی تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې فرانسې ته د څلورو کلونو په موده کې ۵۰۰ میلیونه یورو ورکول کیږي ترڅو پر خپله خاوره، بریتانیا ته د اوښتونکو کډوالو د مخنیوي لپاره هلې ځلې ډیرې کړي. فرانسې د دغو پیسو په بدل کې ژمنه وکړه چې اغزن تارونه او کمرې به نصب کړي او د سمندري ځواکونو شمیر به زیات کړي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د فرانسې په ختیځ کې له قاچاق سره د مبارزې یو چارواکی ویلي چې په ۲۰۲۳ کال کې د انګلیس چینل له لارې د تلونکو کډوالو د کچې ټیټېدل څو لاملونه لري .نوموړی په دې باور دی چې د بریتانیا د مالي مرستو له برکته دوې وشو کولای چې د پولیسو شمیر ډېر او له انساني قاچاقچیانو سره د مبارزې هڅې چټکې کړې.**



**انګلیس کانال کې سمندري ځواکونه هڅه کوي چې کډوال سواحلو ته و ژغوري. انځور: رویټرز. اګست ۲۰۲۳**

**نور ولولئ :<u>انګلیس کانال کې د کښتۍ ډوبېدو له امله دوه تنه مړه شوي</u>**

**د دغو هڅو په لړ کې د ریشي سوناک حکومت له روندا سره د کډوالۍ یو تړون لاسلیک کړ تر څو ناقانونه کډوال دغه هیواد ته واستوي خو د بریتانیا سترې محکمې د نومبر په میاشت کې دغه هیواد ته د کډوالو استول ناقانونه و بلل .ریشي سوناک په دې برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړ او یو ځل بیا د قانون مسوده د تصویب لپاره ولسي جرګې ته وړاندې شوه چې بلاخره د ډسمبر په ۱۲ مه، ولسي جرګې روندا ته د کډوالو د استولو مسوده تصویب کړه.**

**سربیره پر دې په روان کال کې ککړه هوا او بادونه او همدارنګه د البانیایي کډوالو د کچې کمیدل نور لاملونه دي چې بریتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمیر ټیټ شوی.**

**د فرانسې له ختیځ څخه د بریتانیا سواحلو ته د تلونکو کډوالو لویه برخه افغانان او ایرانیان جوړوي. د رسمي شمیر له مخې د روان کال په اتو میاشتو کې له ۴۰۰۰ څخه ډېر افغانان له دغې لارې بریتانیا ته په رسیدو بریالي شوي دي.**

**د روان کال په اګست میاشتې بیا د کډوالو یوه کښتۍ په سمندر کې ډوبه شوه چې له امله یې ۶ افغانان په کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. دا یواځینۍ پیښه نه ده چې کډوال په کې خپل ژوند بایللی بلکه په روان کال کې نورې پیښې هم پر دغه سمندري لاره د کډوالو ژوند اخیستی.**

د افغانانو په ګډون ګڼ شمیر کډوال لا هم د فرانسې په ختیځ دانکرک، کالې او نورو ښارونو کې د دې لپاره انتظار باسي تر څو په وړو کښتیو کې ځانونه بریتانیا ته ورسوي.

## سږ کال په اروپايي ټولنې کې له یو میلیون څخه ډیر د پناه غوښتنې ثبت شوي

مهاجرنیوز



په المان او نورو اروپايي هیوادونو کې سږ کال د پناه غوښتنې شمیر په بې ساري ډول لوړ شوی دی، د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې یوه خبرپاڼه وايي ښايي دا شمیر راتلونکې کال کې را کښته شي .

د یو راپور له مخې، د اروپايي اتحادیې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) مشرې نینا ګریګوري د فنک میډیا ګروپ ورځپاڼې ته ویلي چې چارواکو یوازې په اکتوبر میاشت کې شاوخوا ۱۲۳۰۰۰ د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه ثبت کړي چې دا په تېرو اوو کلونو کې تر ټولو زیاته میاشتنۍ شمېره ده.

د دغه راپور له مخې په ۲۰۲۳ کال کې به په اروپايي ټولنه کې د پناه غوښتونکو ټولیز شمېر «له یو میلیون څخه زیات» وي. ګریګوري د تاو تریخوالي کمولو تمه نه لري، برعکس، هغې وویل: "زموږ شاوخوا نړۍ ورځ په ورځ بې ثباته کېږي. له همدې امله، د ساتنې او پناه غوښتونکو په شمیر کې به په ۲۰۲۴ او وروسته کې کمښت نه وي، مګر په ځینو مواردو کې به زیاتوالی ومومي. د هغې په وینا، "۲۰۲۴ به یو ننګونکی کال وي".

<u>بریتانیا د نوی کال لپاره له هوټلونو څخه د کډوالو ایستل ځنډولې</u>

د دغه راپور له مخې، د اکتوبر تر پایه په اروپايي ټولنه کې د پناه غوښتنې ټولټال ۹۳۷ زره غوښتنلیکونه ثبت شوي چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۲۲ سلنه ډېر شوي دي.

د دغې ورځپاڼې د راپور پر بنسټ، یوازې د آلمان د مهاجرت او پناه غوښتنې فدرالي دفتر «BAMF» د روان کال د نومبر تر پایه پورې ۳۲۵ زره ۸۰۱ د پناه غوښتنلیکونه ثبت کړي دي، چې د تیر کال د یوولسو میاشتو په پرتله ۵۲ سلنه زیات شوي دي.

د اروپایي اتحادیې د پناه غوښتنې ادارې په وینا، آلمان اوس هم په اروپایي ټولنه کې د پناه غوښتونکو اصلي ځای دی. د دې ادارې په وینا آلمان د اکتوبر په میاشت کې د ټولو پناه غوښتونکو په سلو کې سلنه ۲۷ برخه درلوده.

<u>د کډوالۍ په برخه کې د ۲۰۲۳ کال تر ټولو مهمو پېښو ته کتنه</u>

له اوکراین څخه د پناه غوښتونکو شمېر یو ځل بیا زیات شوی دی. ګریګوري وویل چې د اکتوبر په پای کې څلور میلیونه او ۱۶۰ زره اوکرایني اتباع چې موقتي مصونیت لري په اروپایي ټولنه کې ثبت شوي چې دا د جنورۍ میاشتې په پرتله ۳۲۰ زره زیاتوالی ښیي.

د اکتوبر په پای کې المان په اروپایي ټولنه کې د شاوخوا ۱،۷ میلیونه اوکرایني کډوالو په لرلو سره د دغو اوکرایني اتباعو تر ټولو مهم کوربه هېواد دی، په داسې حال کې چې پولنډ دویم هېواد دی چې د ۹۵۷ زره اوکراینیانو تر ټولو زیات شمېر لري.

## فرانسه: بندر شیربورگ توسط درون ها برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی نظارت می‌شود

مهاجرنیوز



قوماندانی دریای مانش و شمال فرانسه، پنجشنبه مجوز پرواز "درون" ها یا هواپیماهای بدون سرنشین بر فراز بندر شیربورگ را صادر کرد. هدف این سیستم جدید کمک به نیروهای پولیس در «مداخله‌های سریع» برای جلوگیری از ورود مهاجران غیرقانونی است .

**درون ها یا هواپیماهای بدون سرنشین بر فراز بندر شیربورگ در شمال فرانسه پرواز خواهند کرد تا عبور مهاجرانی را که تلاش برای رفتن به بریتانیا یا ایرلند را دارند، نظارت کند .قوماندانی دریای مانش و شمال فرانسه روز پنجشنبه ۲۱ دسامبر، به «گرفتن، ضبط و انتقال تصاویر با استفاده از دوربین های دورن ها چراغ سبز نشان داد.**

**پرواز درون ها حداقل برای سه ماه آینده مجاز می‌شود. دو افسر پولیس مرزی که به طور ویژه آموزش دیده‌اند مسوول کنترول این درون ها هستند. هدف این نظارت جلوگیری از عبور مهاجران غیرقانونی است.**

**اگزاویه برونتییر قوماندان شمال فرانسه در یک اعلامیه ای، پرواز دورن ها بر فراز بندر شیربورگ را به چندین دلایل توجیه نمود. او گفت که درون ها برای جلوگیری از خسارات مادی مانند "از بین بردن موانع و سیم خاردارها" یا "شکستن کمره های امنیتی، تخریب محموله ها برای پنهان شدن افراد در وسایل سنگین نقلیه کمک می‌کند. وی همچنان تاکید کرده است که این تلاش های مهاجران برای عبور گاهی اوقات با خشونت فیزیکی بین مهاجران و رانندگان کامیون نیز همراه است.**

**به نظر او مسئله دیگر، به خطر انداختن جان مهاجران است. آنها از هر طریقی می‌خواهند از دریا و یا شاهراه ها عبور کنند تا به بریتانیا برسند. در این اعلامیه آمده است: «نظارت سوار شدن مهاجران بر کامیون ها و رویدادهای ترافیکی، خطرافتیدن و غرق شدن مهاجران در دریا هنگام پیشروی به مکان‌هایی که دسترسی به آن نیست، دشوار است«.**

**کانال مانش: نجات بیش از ۲۰۰ تن؛ تعدادی از مهاجران کمک‌های امدادگران دریایی فرانسه را رد کردند**

**دیواری در حال اعمار در بندر شیربورگ**

**سازمان های مدافع در همبستگی با مهاجران، به نوبه خود، از نظامی‌سازی پیشرونده در بندر شربورگ انتقاد می‌کنند. سازمان ایتینیرانس ایجاد موانع و ساخت دیوار را "دیوار رسوایی در وسط شهر" خوانده است و آنرا محکوم می‌کند.**

**یک دیوار جدید به اندازه چهارمتر ارتفاع و سه و نیم کیلومتر طول که دسترسی به این بندر را محدود می‌کند در حال ساختن است. این دیوار قبلا به ارتفاع سه متر ساخته شده بود.**

**بر اساس گزارش رسانه ها، این دیوار جدید باید تا مارچ سال آینده تکمیل خواهد شد. مصرف مالی آن به مبلغ ۳,۲ میلیون یورو از سوی حکومت بریتانیا بر اساس توافق فرانسه و بریتانیا برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی اعلام شده بود.**

**امدادگران فرانسوی در کانال مانش: «نمی‌توانیم مهاجران را مجبور کنیم کمک ما را بپذیرند«**

**۱۸۳ بازداشت از ابتدای سال**

**قوماندانی دریای مانش و شمال فرانسه برای جلوگیری ازعبور مهاجران غیرقانونی از سیستم جدید کار می‌گیرد. پیش از این، کنترول و بررسی مبتنی بر استقرار پولیس گزمه، ماموران امنیتی و دوربین های نظارت تصویری بود.**

**به گفته این منبع، «با توجه به وسعت منطقه، تحرک مردم و تنوع مکان هایی برای پنهان شدن مهاجران، اقداماتی که تاکنون اجرا شده اند محدود بوده است«.**

**قوماندانی شمال از جنوری تا ۲۹ نوامبر ۲۰۲۳، ۱۸۳ تن را به دلیل مهاجرت غیرقانونی در بندر بازداشت کرده است. به گفته این منبع امکان دارد که تا پاییز ۲۰۲۴ با ورود کاروان های تریلردار از جنوب غربی فرانسه وضعیت عبور غیرقانونی بدتر شود.**

**در یکی از پروژه ها برای جلوگیری از ازدیاد ترافیک، از تابستان ۲۰۲۴ یک قطار در روز از بایون به شیربورگ حرکت خواهد کرد. این امر امکان کم شدن موتر ها با بار سنگین را به ترمینال بندر فراهم می‌کند.**

**حداقل ۱۸ تن در چهار ماه گذشته جان باختند**

**سه‌شنبه گذشته، زمانی که قانون جدید مهاجرت تصویب شد، نزدیک به ۸۰ شهروند در شیربورگ برای همبستگی با افراد مهاجر که عبور از کانال مانش برای آنها مرگبار است، تجمع کردند.**

**از آغاز سال، حداقل ۹ مهاجر در کانال مانش جان خود را از دست داده‌اند. آنها تلاش می‌کردند با قایق های پر بار به سواحل بریتانیا برسند. سازمان یوتوپیا۵۶ حداقل ۱۸ مورد مرگ را در چهار ماه گذشته در این منطقه ثبت کرده است.**

**این سازمان می‌گوید که مهاجران در حین تلاش برای عبور یا در دریا و یا در هنگام تلاش برای شستشو غرق شده‌اند. از سوی دیگر قایق آنها واژگون شده و یا از کامیون در بزرگراه افتیده‌اند. برخی در نتیجه جمع آوری حساب و درگیری بر سر یک وعده غذایی چاقو خورده‌اند.**

## افغانستان در دومین بازی تمریناتی کریکت مقابل امارات نیز پیروز شد

آریانانیوز



تیم ملی کریکت افغانستان در دومین بازی تمریناتی ۵۰ آوره مقابل امارات متحده عربی با اختلاف ۹۵ دوش به پیروزی رسید.

تیم افغانستان که با برنده شدن قرعه در شهر شارجه نخست توپزنی کرد، با از دست دادن هفت ویکت ۲۴۹ دوش انجام داد. شرف الدین اشرف ۶۳ و بهیر شاه ۶۲ دوش انجام دادند.

تیم امارات، در مقابل، با ۱۵۴ دوش در آور ۴۲.۲ حذف شد و نتوانست به هدف داده شده برسد. فرید احمد و ضیاء الرحمن هر یک سه ویکت گرفت.

پیش از این، افغانستان اولین مسابقه تمریناتی مقابل امارات را با تفاوت ۱۰۹ دوش برنده شده بود.

افغانستان و امارات متحده عربی سلسله مسابقات بیست آوره شان را روز جمعه آغاز می‌کنند.

خبرنامه